آيا پر ما باور نه کوئ، حال دا چې زه د هغه ذات امين يم چې په آسمان کې دی؟ ما ته د آسمان خبرونه سبا او بيګا راځي

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: علي بن أبي طالب رضي الله عنه له يمن څخه رسول الله ﷺ ته يو څه سره زر راولېږل، چې په يوه رنګ شوي پوستکي کې تاو وو او له خاورو لا پاک شوي نه و، نو رسول الله ﷺ د څلور کسانو تر منځه ووېشل: عيينه بن بدر، اقرع بن حابس، زيد الخيل، او څلورم کس يا علقمه و يا عامر بن طفيل، نو د رسول الله ﷺ له اصحابو څخه يو کس وويل: مور له دې کسانو نه زيات مستحق وو، وايي، دا خبره رسول الله ﷺ ته ورسېده، نو هغه وفرمايل: «آيا پر ما باور نه کوئ، حال دا چې زه د هغه ذات امين يم چې په آسمان کې دی؟ ما ته د آسمان خبرونه سبا او بيګا راځي» بيا يو سړی راپاڅېد، چې سترګې يې ژورې، غومبوري يې لوړ، تندی يې پورته، ږيره يې ګنه، سر يې پک، او لنګ يې بډ وهلی و، هغه وويل: اې د الله رسوله! له الله نه ووېرېږه! رسول الله ﷺ وفرمايل: «هلاک شې! آيا زه د ځمکې په خلکو کې تر ټولو زيات له الله نه ويريدونکی نه يم»؟ وايي، بيا هغه سړی لاړ، نو خالد بن وليد رضي الله عنه وويل: اې د الله رسوله! آيا څټ يې ونه وهم، رسول الله ﷺ وفرمايل:«نه، شايد دا سړی لمونځ کوي» نو خالد وويل: ډېر داسې لمونځ کوونکي شته چې په ژبه يو څه وايي، خو هغه يې په زړه کې نه وي، رسول الله ﷺ وفرمايل: «زه مامور نه يم چې د خلکو زړونه وڅېړم يا يې نسونه څيرې کړم» وايي، بيا يې ورولېدل، په داسې حال کې چې هغه روان و، نو ويې فرمايل: د دې سړي له شا څخه به داسې خلک راووځي چې د الله کتاب به ښايسته لولي، خو له ستوني به يې نه تېرېږي، خو له دين څخه به داسې وځي لکه غشی چې له لېندې څخه وځي»، راوي وايي: ګومان کوم رسول الله ﷺ وويل: «که زه هغوی ومومم، نو د ثمود د قوم په شان به يې ووژنم».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

علي بن أبي طالب رضي الله عنه له يمنه رسول الله ﷺ ته يوه د سرو زرو ټوټه راولېږله، چې په رنګ شوي پوستکي کې وه، او لا له خاورو پاکه شوې نه وه، وايي: نو رسول الله ﷺ دا د (سرو زرو ټوټه) په څلورو کسانو ووېشله. عيينه بن بدر الفزاري، اقرع بن حابس الحنظلي، زيد الخيل النبهاني او علقمه بن علاثة العامري، نو د رسول الله ﷺ له اصحابو څخه يوه سړي ووېل: مور له دې کسانو زيات مستحق وو، وايي: رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسيده، نو هغه وفرمايل: «آيا پر ما باور نه کوئ، حال دا چې زه د هغه ذات امين يم چې په آسمان کې دی؟ ما ته د آسمان خبرونه سهار او مابنام راځي». راوي وايي: نو يو سړی راپاڅېد، چې سترګې يې ژورې کندو ته لوېدلې وې، د مخ غومبوري يې راوتلې و، تندی يې پورته و، ږيره يې ببره خو اوږده نه وه، سر يې خريلی و، او د بدن د لاندې برخې لنګ يې بډوهلی و، نو ويې ويل: اې د الله رسوله! له الله نه ووېرېږه!" نو رسول الله ﷺ وفرمايل: «هلاک شې! آيا زه د ځمکې پر مخ تر ټولو زيات د الله نه وېرېدونکی نه يم؟!» راوي وايي: بيا هغه سړی روان شو، خالد بن وليد ووېل: اې د الله رسوله! آيا څټ يې ونه وهم؟ نبي ﷺ وفرمايل: نه، کېدی شي لمونځ به کوي، نو خالد ووېل: ډېری لمونځ کوونکي شته چې په ژبه هغه څه وايي چې په زړه کې يې نه وي، هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ماته پدې امر نه دی شوی چې د خلکو زړونه وڅېړم او نه دا چې نسونه يې څيرې کړم؛ بلکې ماته امر شوی چې د خلکو د ظاهري اعمالو پر بنسټ فيصله وکړم، وايي: بيا (نبي ﷺ) هغه ته وکتل، حال دا چې هغه روان و، نو ويې فرمايل: د دې سړي او د ده له ملګرو او قبيلې به داسې نسل راووځي چې د الله کتاب به په ښايسته غږ لولي، د زيات تلاوت له امله به يې ژبې لندې وي، خو قرآن به د هغوی له ستوني نه تېرېږي چې زړونه يې درک کړي او پرې اصلاح شي، او الله به يې پرې نه پورته کوي او نه به يې ترې قبلوي، له اسلامه څخه به داسې وځي لکه غشی چې له لېندې سپک او په تېز سره وځي. او ګومان کوم ويې فرمايل: که مې ومومندل چې د مسلمانانو په مقابل کې راپورته شوي، نو لکه د ثمود د قوم په څېر به يې پر وړاندې سخت وجنګېږم.

